# د ټاکنو څارونکي بنسټونه د ټاکنو په اړه د ګواښونو وړاندوینې غندي

۶ سیپتمبر 2010
کابل

د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا) د دوشنبی په ورځ د ولسي جرګې د یو تن نوماند وژنه په کلکه محکوموي او د ټولو امنیتي چارواکو څخه غواړي چې په ۱۸ سیپتمبر درایی اچوني دمرکزونو دساتنی اومنیت لپاره کوټلي اوموثرتدابیرونیسي.دټاکنې دکمپاین له لومړی ورځ څخه تردی وخته دری تنه دولسی جرګي  نوماندان او دټاکنیزکمپاین ۱۱ تنه کارکوونکي وژل شویدي،او په ګڼ شمیرکې کسانوباندی وسلواله حمله شویده او ډول ډول ګواښونه ورته شویدي، او آن تردی چه تېپیان شوی هم دي، دغه حملي دهغه قانون ماتوونکو او خپل سرو وسلوالو لخوا ترسره شویدي چه نه غواړي په هیواد کي دولسي جرګي ټاکنې ترسره شي او یا بی نتیجي پاتي شي.
دطالبانو ویاند: ذبیح الله مجاهد د اګست په ۴ نیټه دمطبوعاتو سره په خبرو کي وویل: ټاکنې او دټاکنو سره تړاو لرونکي: امنیتي چارواکي، کمپاین کوونکي، دټاکنوکارکوونکي او رایی اچونکي زمونږ.نښه او هدف دي . دافغانستان دآزاد او عادلانه ټاکنوبنسټ (فیفا) دطالب ویاند دغه وینا په کلکه رد او محکومه وي.
دافغانستان دآزاد او عادلانه ټاکنودبنسټ (فیفا)  ریس محترم نادرنادری وایی: زه له طالبانو څخه غواړم چه په ټاکنو کي دخلکو انتخاب ته احترام وکړي . طالبان باید نړیوالو قوانینو په رعایت کولو سره مکلف دي چي په خلکو دحملو کولو څخه ډډه وکړي اوټول نوماندان باید ددیموکراتیک سیستم په چوکاټ کې دصلحی په فضا کې دخپل هدف دترلاسه کیدو لپاره مبارزه وکړي.
دکمپاین په بهیرکې دتخارپه ولایت کی داګست په ۲ نیټه دناټو په هوایی برید کې د ولسی جرګی دټاکنو دکمپاین ۱۰کارکوونکي ووژل شوو، چه دغه پیښه لاتراوسه پوری دڅیړني لاندی ده .
ددی پیښي په اړوند زه په تاکید کوم چه دناټو ځواکونه دی دښمني په ویشتلو کی له زیات دقت څخه کارواخلي ترڅو دولسې وګړو دمرګ او جوبلي مخ نیوي وشې،

نادری زیاته کړه چه : افغان امنیتی چارواکي دی دټاکنو پرمهال دی دساتنی او حافظت ټینګ تدابیرونیسي ترڅو خلک په ټاکنو کي په ډاډه زړه پراخه ونډه واخلي.

دټاکنو څارونکي ګروپونو او مطبوعاتو د ۲۳جون۲۰۱۰ نیټی څخه راپدیخوا راپور په لاندی ډول ترتیب کړی دی :

| قربانیان | په ټاکنو کي دهغوی رول | ولایت | ولسوالی / ځای | دحملي نیټه | تفصیلات |
|---|---|---|---|---|---|
| دوکانداران | دټاکنودکمپاین ملاتړکوونکی وو او دیو نوماند پوستریی په خپل دوکان ځړوه. | لوګر | برکی بارک | ۱۴جولای۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شواو خلکوته په ټاکنو کي دنه ګډون ګواښ کول |
| کمپاین کوونکی | داحمد مبشردپاره کمپاین کوونکی | لوګر | چرخ | ۱۶ جولای ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شوو. |
| کمپاین کوونکی | دمحمدنادرحقوقمل دپاره کمپاین کوونکی | لوګر | تدخاک | ۱۶جولای ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شوو. |
| دوه کمپاین کوونکی ورونه | دانجنیرمبشردپاره کمپاین کوونکی | لوګر | برکی بارک | ۱۶جولای | دشپی لخوادطالبانو لخوا ووژل شول. |
| سعیدالله سعید | نوماند | خوست | اسماعیل خیل | ۲۴جولای ۲۰۱۰ | دټاکنو دکمپاین پرمهال دلاسی بم په واسط دطالبانو لخوا ووژل شو. |
| کمپاین کوونکی | دشکیلا دپاره کمپاین کوونکی | لوګر | برکی بارک | ۲اګست ۲۰۱۰ | دطالبانو لخوا ووژل شواو خلکوته په ټاکنو کي دنه ګډون ګواښ کول |
| نجبیب الله ګلستانی | نوماند | غزنی | قره باغ | ۱۷اګست ۲۰۱۰ | دتښتولو وروسته دطالبانولخوا ووژل شو. |
| پنځه کمپاین کوونکی چه ټول نارینه وو او عمرونه یی د ۲۰څخه تر۳۵پوری وو | دفوزیه ګیلانی دپاره کمپاین کوونکی | هرات | ادرسکان | ۲۷اګست ۲۰۱۰ | دتښتولو وروسته دطالبانولخوا ووژل شو. |
| عبدالمنان هاشمی نورزی | نوماند | هرات | شیندند | ۲۸ اګست ۲۰۱۰ | دجومات څخه دوتلو پرمهال په ګولیو وویشتل شو. |
| کمپاین کوونکی | دنقیب الله فایق دپاره کمپاین کوونکی | فاریاب | قیسر | ۳۰اګست ۲۰۱۰ | په هغه بمی بریدکي ووژل شو چه هدف یی نوماند وو. |
| ۱۰تنه کمپاین کوونکی | کمپاین کوونکی | تخار | روستاق | ۲سیپتمبر | ۸ تنه کمپاین کوونکی دناټودځواکونو په |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | هوای برید کي ووژل شول. |

مطبوعاتی څانګه :
دافغانستان دازاد او عادلانه ټاکنو بنسټ (فیفا)
دکورشمیره : ۳۸۴
سرک : ۵
ناحیه : ۶
دتلیفون شمیره : 0799225841
پرېښنن